**د بورقې او نقاب پر بندیز د ډنمارک د خلکو تینګار**

(ژباړه)



**خبر:**

په ډنمارک کې د وروستۍ سروې له مخې له هرو لسو ډنمارکي وګړو څخه شپږ تنه يې په عامه ځایونو کې د مسلمانو ښځو د بورقو او نقاب د اغوستلو پر بندیز موافق دي. د ډنمارک د ازادۍ غوښتونکي حرکت رهبر مارکس نوث د نقاب په اړه وايي: «په عامه ځایونو کې د نقاب اغوستل له ښځو سره تاوتریخوالی دی او دا کار له ټولنیز زندان سره مشابه دی».

**تبصره:**

د بورقې او نقاب د موضوع ننګول څه نوې او ناڅاپي مسئله نه ده، که وغواړو چې د دې موضوع پر جزیاتو پوه شو، نو وبه مومو چې په ۲۰۱۰م کال کې د ډنمارک ۵۳ سلنه خلکو پر بورقې او نقاب د بندیز غوښتنه کړې وه. سره له دې چې فردي آزادي د دموکراتې ټولنې یو نه انکار کېدونکی عنصر دی. اروپایي محکمې په بلجیم کې پر بورقې او نقاب د بندیز تصمیم ونیوه؛ نو ځکه دغه مسئله پر یوه مهمه او د څېړنې وړ موضوع بدله شوه. دا شدیدې کړنې نه یوازې په ډنمارک کې، بلکې د اسلام پر وړاندې په ټوله غربي نړۍ کې باید مسلمانان دې ته اړ کړي، چې د دې موضوع په اړه سمه پرېکړه وکړي. دا چې د بورقې او نقاب اغوستل فرض دي یا سنت، دا یو جلا بحث دی؛ خو دا دلیل نه شي کېدای چې تري تېر شو. دا مسئله نه له فردي آزادۍ او حقونو او نه هم د خلکو له نظرونو او فکرونو سره تړاو لري؛ همدا راز دا په ټولنه کې کوم فردي نوښت هم نه دی.

که ژور فکر وکړو، د ډنمارک هېواد سیاستوال نه د ښځو د حقونو او نه يې د ازادۍ په فکر کې دي او نه هم د دوی مصلحت ته پام کوي. د هغې سروې پر بنسټ چې په دغه هېواد کې تر سره شوې، کابو نیمایي ښځې له تاوتریخوالی سره مخ دي او پر ۳۷سلنه زیاتو يې جنسي تېری شوی دی. چېرته دي د قانون سیاستوال ټکه داران؟ چېرته دي هغه کسان، چې یاد موارد يې جدي نیولي او عمومي حل لاره وړاندې کړې؟

د دغو مواردو له څېړنې دې پایلې ته رسېږو، چې د ډنمارک سیاستوالو نه یوازې د خپل هېواد له ښځو سره ظلم کړی؛ بلکې د مسلمانو ښځو د ژوند شرایط يې هم خراب کړي دي. په اصل کې دا سیاستوال د بورقې او نقاب له اغوستلو څخه نه وېرېږي؛ خو اصلي پوښتنه دا ده چې دوی ولې دغه موارد دومره جدي نیسي؟ حقیقت دا دی چې دوی په مسلمانانو کې د اسلامي دولت د بیا زبرځواکېدو له ظهوره ویره لري؛ نو

ځکه دوی له هرې لارې ګټه اخلي، چې اسلام او اسلامي ارزښتونه بد وښيي او پر مسلمانانو او اسلامي ډلو د افرطيت او ترهګرۍ ټاپې لګوي؛ تر څو مسلمانان په اسلامي افکارو کې ګډوډ کړي.
پرته له دې، چې د نقاب په اړه افراد او ډلې څه نظر لري، د الله سبحانه وتعالی د اطاعت له نښو څخه ده؛ نو همدا حقيقت د دې لامل شوی چې تل تر بنديز او بريد لاندې راشي. موږ مسلمانان بايد هر اړخيز فکر وکړو، نه سطحي. د بورقې او نقاب پر بنديز ټينګار په حقيقت کې پر اسلام حمله او توهين دی او د افرادو او ډلو له شخصي نظرونو څخه پرته بايد د عامو او خاصو د پاملرنې محور وګرځي.که نن بورقې او نقاب اغوستلو اهميت له لاسه ورکړ، نو لرې به نه وي چې يوه ورځ به له مسلمانانو حجاب لرې شي.
موږ مسلمانان بايد درک کړو، چې د ظالمو رژيمونو تر حاکميت لاندې ژوند پر موږ څه اغېزه کوي؟ موږ بايد پرېکړه وکړو چې څه ډول له دې کړکېچه ځان وژغورو او پر وړاندې يې د درېدو او ردولو پوره توان ومومو او په دې کې شک نشته چې الله سبحانه وتعالی به زموږ ملګری وي.

**د حزب التحرير مرکزي مطبوعاتي دفتر لپاره**

**ليکوال: جونس کاک**

**۱۴۳۸هـ.ق، د ذوالحجې ۱۹مه**

**۲۰۱۷م، د سپټمبر ۱۰مه**